# باچاخان ته د شاعرانو پېرزوينې

پروفېسر ډاکټر عرفان خټک



دا یو منلې شوې حقیقت دې چې هر زنده سر به د مرګ پیاله څښي. خو په دنیا کښې داسې شخصیات هم پېدا کېږي چې هغوي د خپل کردار،عمل او د اولس د ښېګړې،سوکالۍ او خوشحالۍ دپاره په هر قامي او ملي ډګر داسې خاپونه پرېږدي چې هغوي که د دنیا نه لاړ هم شي خو د قامونو په زړونو کښې همېش دپاره ژوندي وي. په هره موقعه په هره زمانه او عصر کښې د خپل کردار او عمل د علوي شخصیت د بې لوثه او بې عرضه خدمت په طفیل یادېږي. د ایشیاء په داسې بې مثاله شخصیاتو کښې د باچاخان نامه هم شامله ده. د پښتون قام د آبادۍ،خوشحالۍ او آزادۍ دپاره د دوي جدوجهد د چا نه پټ پناه نه دے. دوي خپل هر څه د پښتون قام د سره زار کړي دي. او د خپل ژوند هره ګهړۍ ئې د خپل قام د ښې ورځې دپاره قربان کړې ده.

موده وشوه او که داسې زمانې هم تېرې شي خو د پښتون نسل نه به خپل دغه محسن هیڅرې هېر نه شي. د هر مکتب فکر وګړي د باچاخان نامه په ډېر احترام اخلي. زه په پښتو شاعرۍ کښې چې د باچاخان د وفات په موقعه کومو شاعرانو د دوي په فِراق کښې د خپل فکري سترګو نه د قلم په لار کومې د لفظونو اوښکې توئې کړې دي. زه هغه ملغلرې په دې خپل مضمون کښې راټولوم او ګرانو لوستونکو ته ئې د باچاخان بابا د یاد په حیث پېش کوم.

د باچاخان د تحریک آزادۍ یو فعاله ننګیالے او مېړنے شخصیت،ملي قهرمان او د پښتو د انقلابي شاعر یو ځانګړے نوم د انقلابي نظم بابا خدائې بخښلي اجمل خټک د پښتون قام دې عظیم ملي او قامي مشر د رښتوني خدمت او د پښتون قام د سوکالۍ او آزادۍ دپاره د دوي د قربانو په رڼا کښې داسې پېرزوینې وړاندې کړي دي.

اے د غریبو په رښتوني خدمتګاره بابا
جیل کښې مېچنې اوړول زمونږ دپاره بابا
لکه منصور په حق وینا هر وخت په داره بابا
رڼا د وصل توره شپه کښې د بېلتون راځي
فخر افغانه

د سرداریاب زمونږ بې تاجه بې قلنګه باچا
د هر پښتون د زړۀ په تخت ناسته ملنګه باچا
د غېرتونو نه سرتوره ډک له ننګه باچا
تا پسې قام لکه لیلی پسې مجنون راځي
فخر افغانه

د شملې صدۍ د پښتو د غزل پلار حمزه شینواري د باچاخان وفات د دنیا نه د امن،مینې او د انسانیت د پېرزوینې د یو فکر یون ګڼلو. هغوي باچاخان ته داسې د عقیدت پېرزوینې وړاندې کوي.

چې داعـــي مـــو تـل د امـن و امـــان لاړ
یـــو پیـــکـر د پېـرزویـنـې د انسـان لاړ
اوس بـــه تـل د حـریـت ګلان تـازه وي
پســرلـي کـــه د پښتون د ګلستـــان لاړ
پـه خـنـدا لـکه د ګل مو په ازغو کښې
چې ووتل د قام په غم څېرې ګرېوان لاړ
چې مـدام بـه افتــخـار د قام و ملک وي
نـن هـغـه مېړنـے ځـوان فخرِ افغان لاړ

د ستر انقلابي شاعر او ادیب خدائې بخښلي قلندر مـومـنـد د حـضـرت باچاخان په وفات داسې نوحه کړې ده.

پـه افغان خدایه دا څه رنګ امتحان شۀ
بـاچـاخـان تـرې د عقبا په لور روان شۀ
لـه رامـو تـر بـحـرِ هـنده یو قغان شـه
پـه دې ټـولـه سیمه سم د غم طوفان شۀ

سـمندر خان سمندر چې د پښتو د شاعرۍ خلق یو ځـلـنـده نـمـر دے. دوي د باچاخان په مړینه داسې وائي :

قـــوم د غـــم پـــــه خـــوب اودۀ ؤ
حـــــــال ئې نۀ د ویښیـــــدۀ ؤ
پـــــه ســـاړۀ نـــــه پـــه تـــاؤدۀ ؤ
زړۀ کښې د غـــــــــــم اور د دۀ ؤ
زۀ بـــــاچـــــاخـــــان یـــادؤمـــــه
زړۀ لــــه ستـــرګـو اوښکې څڅـومـــه

د پښتـو د جدیدې روماني او انقلابي شاعرۍ ستر خـوږ ژبے شاعر محترم رحمت شاه سایل د پښتون قـام پـــه نـنـګ د راپـاسـیـدلـي باچاخان د آزادۍ د تـحـریـک پـه لړ کښې د ګـالـلې هرې سختې د هر ستـم او هـرې نـاکړدې تـذکـرې سره هغوي تـه د احساس هغې ګل سره تشبیهـ ورکوي چې د ظلم د استـداد د ستم او جبر په اور کښې هم د خپل قام د مستقبل د آزادۍ،سوکالۍ او خوشحالۍ په طمع تل خندېږي او غوړېږي.

یو ځل چې په ننګ د آزادۍ راپاسیدلے ؤ
لار کۀ هر څو ډکه د لمبو وه دے پرې تلے ؤ
کور ؤ که کوڅه وه که جونګړه وه که کلے ؤ
دے د لیـونـو هسې په ټولو ګرځېدلے ؤ
دے د احساس ګل ؤ خندېدلے غوړېدلے ؤ

حـضـرت بـاچــاخـان د پښتون قـام د سر سورے ؤ. پښتانه په دۀ ډاډه وو د پښتنو د دردیدلي زړۀ درمان او ټکور ؤ. محترمې س ب ب (سیده بشری بیګم) په خپـلـو شـعـرونـو کښې د باچاخان د دغې اوصافو تذکره په دې ډول کوي.

اے پـه لـوئې سفر روانه رب دې مل شه
د پښتـون د زړۀ درمـانه رب دې مل شه
پښتـــانـــه د لـر و بـر پـــه تـــا ډاډه وو
اوس به څه کوي بې تانه رب دې مل شه
پښتانه دې په قومونو کښې حساب کړۀ
قـدر مـنـــه قـدردانـــه رب دې مـل شــه

عامي هشنغرے د حضرت باچاخان په وفات مرګي تـه مـخـاطب کښې څه داسې خپل غمژن تفکرات ښکاره کوي.

اوچـت غـر د ایشیـاء دې رانـه یـوړو
د صـدو لـوئې مسیـحـا دې را نـه یوړو
د هر وخت د تورې شپې زړۀ کښې چراغ ؤ
د مـاښـام انـجـام صبـا دې رانـه یوړو
لــوئې قـــاتـلـــه د رڼـا د سـرو بخـرو
روڼ سـحـر د سـرې رڼـا دې رانـه یوړو

خدائې بخښلي لطيف وهمي چې د پښتو شاعرۍ د آزاد نظم په صنف کښې حضرت باچاخان ته د عقيدت کومې نذرانې وړاندې کړي دي هغه هم د نظره تېرې کړئ.

د عظيم قامي عظيم سالاره
دا ستا د قول او عمل اعجاز دے
چې داسې قام
داسې اولس تا منظم کړو
په ځان دې مئين کړو
په تېره تېره دا پښتون قام
چې خپل ماضي ئې له خياله ووتے ؤ
بې پرواه ؤ يا ناخبر ؤ
نه په صبا ؤ نه په بيګاه ؤ
په خپل وطن کښې ؤ بې وطنه
د غير وطنو د استعمار لاسو کښې ګېر ؤ
د استحصال مار ؤ خوړلے
تا راوچت کړو. داسې اوچت کړو لکه يو غر

خدائې بخښلے شمس القمر انديش د پښتو شاعرۍ د شلمې صدۍ نامتو شاعر ؤ. دوي د باچاخان د تل ژوندون په حقله وائي چې اے باچاخان بابا ته د مينې او خلوص داسې ساز ئې. ته د ننګ يو داسې آواز ئې چې هم د سپرلو د ښکلا راز ئې او هم د پښتون قام ننګ او ناز ئې. ته د محبت داسې سپيځلې رڼا ئې چې تل به ژوندے ئې او ژوندے به اوسې.

اے د مينې سازه ته
اے د ننګ آوازه ته
اے د سپرلو آوازه ته
اے د پښتون نازه ته
ته ځېره د سپين صبا ئې
اے د محبت رڼا
ژوندے اوسې
ژوندے ئې ته
ژوندے به ئې

د حضرت باچاخان د ژوند يو تحريک فلسفه عدم تشدد ؤ او هغه خپل دغې مقصد دپاره د هيچا نه پېښې نه دريغ نه دے کړے. او که د خپل مرام په لاره کښې ور ته هر څه مخې ته شوي دي نو د ننګ او غېرت دې څښتن ور ته لکه د فولادي غر خپله سينه را ايستي ده. ښاغلے ډاکټر اسرار د بابا د دغې اوصافو په لړ کښې داسې وائي.

دا هغه دے چې د ننګ غېرت نه ډک دے
په خپل هوډ کښې د فولادو نه هم کلک دے
دۀ ګڼلے پښتنو سره خپل وک دے
مينه عدم تشدد د دۀ توپک دے

ښاغلے مشتاق الرحمان شفق (م.ر.شفق) د آزادۍ قهرمان د قامولۍ د ننګونو او غيرتونو نشان باچاخان ته د عقيدت پېرزوينې په دې رنګ کښې وړاندې کوي.

د خپلواکۍ مدعي، د آزادۍ قهرمان
د قامولۍ په ډګر د غيرتونو نشان
د تربګنيو په کور کښې د اخوت پلوشه
د نفرتونو شور کښې د محبت پلوشه
د ستمونو اور کښې د صداقت پلوشه
تيارو ته مخه وهي ځي په رڼا د ايمان
په تورو شپو کښې د ژوند بل چراغان چراغان

ښاغلے اقبال حسين افکار فخرِ افغان پښتون قام د اوربل ګل ګڼي هغه د پښتنې سيمې د دې بې تاجه حکمران نه د باچائۍ واړه منصبونه او مرتبې قربانوي.

د پښتون د اوربل ګله
تا نه زار شه دا ګلونه
په نامه د باچا ياده
تا نه زار شه منصبونه
د دې سيمې حکمرانه
اے بابا فخرِ افغانه

ښاغلي ماصل خان آتش د بابا فخر افغان په مرګ خپل آتشي جذبات په دې رنګ کښې ښکاره کړي دي.

دغه ننګيالے يواځې فخر د افغان نۀ ؤ
فخر ايشياء ؤ معمولي غونډې انسان نۀ ؤ
لاړو په مرګ لاړو خو کمزورے ئې ايمان نۀ ؤ
عن تر بوډا توبه چاته پريښے ئې مېدان نۀ ؤ
زور ئې د ايمان په مرګ ښکاره غر د ايلم شولو
خور چې د بابا د مرګ خبر په ګل عالم شولو

راقم الحروف د حضرت باچاخان مرګ د ايشياء مرګ بولي. د بابا وفات د پښتنو د عظمت د جګو شملو راماتېدل ګڼي. دوي د پښتونخوا په غېرتي خاوره د فخر افغان باچاخان په رنګ بل داسې پښتون رهبر قامي او ملي مشر زېږېدل ناممکن بولي چې هر څه د قام د آزادۍ دپاره په داؤ ولګوي.

د پښتنو د عظمت جګې شملې
د ډېره غمه نه راماتې شولې
د لوئې بابا فخر افغان په مرګې
د پښتنو خونې مېراتې شولې

هره سينه کښې څکه زړۀ ژړېږي
د پښتونخوا لوئې او واړۀ ژړېږي

د پښتونخوا په غېرتي خاوره به
بويه چې مل داسې پښتون شي پېدا

چې هر څه داؤ په آزادۍ کړي د قام
افسوس چې بل داسې مجنون شي پېدا

بابا د قام ناموس او ننګ ګټلے
را ته هېواد ئې له فيرنګ ګټلے

د دغه څو نامتو او وتلو شاعرانو د کلامونو نه دا خبره نوره هم تصديق ته رسي چې فخرافغان باچاخان د پښتون قام يو داسې نابض شخصيت ؤ. يو داسې قامي او ملي رهبر ؤ چې خپل ټول ژوند ئې د قام د خپلواکۍ او آزادۍ په جدوجهد کښې د بې سر و سامانۍ په حالت کښې تېر کړے ؤ د انګريزي استعمار ناشونې د وخت ناکړدې د ظلم او ستم تودې سړې هر څه ئې په روڼ تندي ګاللي خو د خپل پښتون قام د خلواکۍ او د خپلې خاورې خپل اختيار سره ګلونه ئې د خپل مرام د ناوې د غاړې هار ګرځولے دے. که صدۍ واوړي عمرونه تېر شي خو چې په دې خاوره يو پښتون بچے هم ژوندے وي د دې بين المللي مشر د ملي قهرمان او اتل د شهامت او بهادرۍ قيصې به هم ژوندۍ وي او تل به پښتانه خپل دغه عظيم مشر هم دغسې يادوي.

☆☆☆

## ولي محمد خان په حق اورسېدو

د عوامي نيشنل پارټۍ يو زوړ مشر د قومي اسمبلۍ او د پښتونخوا اسمبلۍ پخوانے ممبر ولي محمد خان د مصري باندې(نوښار) په ۲۹ دسمبر ۲۰۱۵ په حق اورسېدو. انا لله وانا اليه راجعون.

د ,,پښتون،، اداره د اروابښاد د کورنۍ او د عوامي نيشنل پارټۍ د کارکنانو سره په دې غم کښې پوره پوره شريکه ده. او د مرحوم د بخښنې دعا کوي چې الله تعالی دې ور ته جنتونه ورکړي او غمژنې کورنۍ ته دې صبر ورکړي.

,,پښتون،، اداره